# د مهاجرت او ادغام په اړه مطالعه (د ادغام سروې)


- د «مهاجرت او ادغام» مطالعه د څه شي په اړه ده؟
- د سروې قانوني اساس څه دی؟
- سروې څوک پرمخ وړي؟
- تاسي د سروې لپاره څنګه انتخابیږئ؟
- سروې څنګه په لاره اچول کیږي؟
- ستاسي ډیټا څنګه محافظت کیږي؟
- آیا سروې یو قانوني شرط دی؟
- اړیکه


## د «مهاجرت او ادغام» مطالعه د څه شي په اړه ده؟

مهاجرت او ادغام متنوع موضوعات دي او خلک د دې موضوعاتو په اړه مختلف نظرونه لري. د دې سروې موخه د نفوس ټولو ډلو څخه د خلکو نه د هغوی د نظر پوښتل دي.

دا معلومات عموماً په چمتو شوي احصایی کې یا د عامه اداري نهادونو لخوا مدیریت کیدونکي ډیټابیسونو کې نشي موندلی کیدی. د همدې لپاره د فعالیت راپور ورکولو لپاره سروې ګاني لازمي سرچینې دي. د همدې لپاره موږ تاسي نه د مرستې غوښتنه کوو! موږ ته د خپلو معلوماتو په راکولو سره، تاسي پدې کې د ارزښت وړ ونډه اخلئ؛ یوازې په هغه صورت کې چې هر ځواب ورکونکی پوښتنو ته د زړه نه او په صداقت سره ځواب ورکړي نو د اتریش وضعیت به په سم او صحیح ډول ترسیم شي.

د اړوند څېړنیزي مطالعي پایلې به د 2022 په اوړي کې د احصایي اړوند په کلني کتاب "migration&integration" ("کډوالي او له ټولنې سره یوځای کېدنه") کې او په "Bericht zur sozialen und normativen Integration" ("په ټولنه کې د ټولنیز او معیاري یو ځای کېدنې په راپور") کې خپرې شي.

## د سروې قانوني اساس څه دی؟

په سروې کې ګډون کول د معلوماتو ورکوونکو لپاره کوم ډول قانوني شرط ندی او د همدې لپاره ګډون کول په بشپړ ډول داوطلب او رضاکار دي. په هرصورت، د ډیټا د کیفیت لپاره په لوړه کچه ګډون کول خورا مهم دي. دا سروې د فدرال ریاست لخوا په لاره اچول شوې او تمویلیږي، او د 2017 راهیسې د قانون له مخې اړین د ادغام نظارت پروګرام برخه ده.

## سروې څوک پرمخ وړي؟

دا سروې د فدرال اداري Statistik Austria لخوا پرمخ وړل کیږي. Statistik Austria د حکومت په استازیتوب د اتریش اقتصاد او ټولنې په اړه د لوړ کیفیت ارقام او تحلیلونه چمتو کوي. دا حقایق او ارقام د پالیسي جوړونکو، ادارو، صنعت او نړیوالو نهادونو لخوا پریکړو کولو لپاره معتبر اساس جوړوي. Statistik Austria یو شرکت دی چې د اتریشي خلکو په استازیتوب کار کوي او غیرانتفاعي دی. دقت، بې پریتوب، عینیت او ارتباط د Statistik Austria لخوا ترسره کیدونکي کار لپاره لارښود اصول دي. د اتریش د مخکښ معلوماتو خدمت وړاندې کونکي په حیث، Statistik Austria ترټولو ستر ناځاپي بیلګي سروې کوي، کوم چې په هیواد کې د ټولنیز او اقتصادي ژوند په اړه دقیق معلومات عرضه کوي. د کیفیت د تضمین عصري وسایل هم کارول کیږي.

## تاسي د سروې لپاره څنګه انتخابیږئ؟

د وخت کموالي او لګښتونو له امله، دا ممکنه نه ده چې په اتریش کې د ټولو وګړو څخه ټولپوښتنه ترسره شي. له همدې کبله د وګړو یوه ځانګړې برخه به وټاکل شي چې د امکان تر حده نږدې د ټول نفوس یا د هغو اړونده فرعي ډلو استازیتوب کوي څوک چې په اتریش کې ژوند کوي. ټاکنه به په ناڅاپي بڼه ترسره کیږي ترڅو له دې ډاډ ترلاسه شي چې هر یو کس په ټولپوښتنه کې د برخه اخیستو فرصت ولري.

## سروې څنګه په لاره اچول کیږي؟

په لومړي پړاو کې، هغه کسان چې د ناڅاپي نمونې لپاره غوره شوي دي هغوئ به د اتریش د احصایي له اداري څخه مخکې له مخې خبرتیا ترلاسه کړي. په دوهم پړاو کې به، دوی د خبرتیا یو لیک ترلاسه کړي چې د آنلاین پوښتنلیک لینک او د لاسرسي وړ معلومات (د کارن نوم او پاسورډ) به پکې وي.

## ستاسي ډیټا څنګه محافظت کیږي؟

مهاجرت او ادغام د ډیری خلکو لپاره ډیر شخصي موضوعات دي. د همدې لپاره به ټولو معلوماتو سره هرو مرو د محرمیت له مخې چلند کیږي.

تاسي کولی شئ د دې سروې په اړه د ډیټا د محافظت هراړخیز معلومات زموږ د **ډیټا خوندیتوب پاڼه** کې وموميئ (PDF, 35 kb) (دا سند یوازې په آلماني ژبه کې شتون لري). د احصایي پټوالی او ستاسي د شخصي ډیټا محافظت زموږ د خورا مهمو **اصولو** برخه دي. موږ د **فدرال د احصایي قانون**، **د عمومي ډیټا محافظت مقررات** او **د ډیټا د محافظت قانون** له مخې اړ یو چې دا ډاډ وړاندې کړو. د همدې لپاره احصایي ډیټا ستاسي د نوم یادولو پرته پروسس کیږي (په بې نومې یا مستعار ډول وړاندې کیږي). ستاسي نوم او آدرس ته یوازې تاسې سره د اړیکې لپاره اړتیا ده. دا تفصیلات په ډیټابیس کې د ځوابونو څخه جلا خوندي کیږي او کله چې سروې وتړل شي نو بیرته حذف کیږي. شخصي معلومات لکه نومونه او آدرسونه د ارزول شوي ډیټا څخه حذف کیږي. همدارنګه ارزونې یوازې د ډلو یادونه کوي، په انفرادي ډول افرادو ته نه راجع کیږي. په بله وینا، په پایلو کې انفرادي ځوابونه نشي پیژندل کیدی. د ډیټا محافظت په طبیعي ډول دا معني هم لري چې د شخصي معلوماتو لرونکي تفصیلات باید کومو دریمو ډلو ته ورنکړل شي – نه حکومتي ادارو ته او نه هم شرکتونو ته.

### آیا سروی یو قانوني شرط دی؟

په سروی کې د ګډون کولو لپاره هیڅ کوم قانوني مکلفیت شتون نلري. د همدې لپاره ګډون کول داوطلب او په خپله خوښه دي. که تاسي ګډون وکړئ نو تاسي به زموږ لخوا د مننې لپاره یو کوچنی توکن ترلاسه کړئ.

### اړیکه

موږ په خوشحالی سره په آلماني یا انګلسي ژبو کې د دې لاندې اړیکې معلوماتو له لارې پوښتنو ته ځواب ورکوو:

تلیفون: 8994-71128 1 43+ (سهار 9 تر ماسپښین 3 بجو پورې)

بریښنالیک: integrations-befragung@statistik.gv.at